# انتقال او بدلون:

## د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور

**مې ۲۰۱۳ زیږدیز کال**



Ketabton.com

**آصف حبيبي**

infoDev Growing Innovation

THE WORLD BANK

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انتقال او بدلون:

# د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور

## مې ۲۰۱۳ زیږدیز کال

آصف حبيبي

infoDev Growing Innovation

THE WORLD BANK

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې راپور انګلیسي متن، (انتقال او بدلون : د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور) په لاندې انټرنټي پاڼې کې پروت دی. https://www.infodev.org/infodev-files/final_afghanistan_ict_role_web.pdf .

© ۲۰۱۳ د بیارغونې او پرمختیایي چارو نړیوال بانک / نړیوال بانک

H ۱۸۱۸ د NW سړک، واشنګټن ډي سي ۲۰۴۳۳

ټیلیفون: ۱۰۰۰-۴۷۳-۲۰۲، ویب پاڼه: www.worldbank.org

ځینې حقوق محفوظ دي

دا راپور د نړیوال بانک د کارکوونکو له لوري خخه چې بهرنۍ مرسته هم ورسره وه ترتیب شوی . په راپور کې هیڅ ډول معلومات له نړیوال بانک پورې تړاو نه لري، نو په همدې اساس نړیوال بانک هیڅکله د هر چا له لوري څخه د معلوماتو د کارونې په وخت کې د معلوماتو د صحت ضمانت نشي کولای. د معلوماتو د کارونې په وخت کې د هر ډول ستونزې پړه ستاسو په غاړه ده.

ټول اصلي معلومات، د معلوماتو ژباړه او د معلوماتو راغونډونه چې په راپور کې ځای په ځای شوي دي د نړیوال بانک له نظرونو څخه نه ګنل کیږي، نه یې اجرایوي بورډ مسولین او نه یې هم اړوند دولتي اداري مسولیت په غاړه اخلي. نړیوال بانک هیڅکله د معلوماتو له صحت څخه چې په راپور کې ذکر شوي ضمانت نه کوي . په راپور کې د موجوده نقشو شتون، د هیوادونو تر منځ پولې، رنګونه او یا نور معلومات هیڅکله په قانوني ډول سره د نړیوال بانک له لوري څخه د تایید او یا رد وړ ندي.

هېڅ داسې معلومات په راپور کې ندي ذکر شوي چې د نړېوال بانک حقوق او امتیازات محدود کړي، بلکې هر څه په ډاګه بیان شوي.

حقوق محفوظ دي.

ددې راپور ټولې چارې د (CC BY 3.0) له جواز لاندې ترسره شوي چې، د جواز په اړه معلومات په لاندې ویب پاڼه کې ښودل شوي دي http://creativecommons.org/licenses/by/3.0 . د یاد جواز لرلو په صورت کې تاسو حق لر ئ چې، معلومات کاپي کړ ئ، معلومات وویشی، معلومات ولېږئ او یا د لاندې شرطونو په لرلو سره له معلوماتو څخه په سوداګریزو موخو کې ګټه پورته کړئ.

وېش – که غواړئ چې دا راپور خپور او یا وویشی نو په مهربانۍ سره د (انتقال او بدلون : د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور) تر عنوان لاندې یې خپور کړئ. واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک، لاندې انټرنټي پاڼه.

https://www.infodev.org/infodev-files/final_afghanistan_ict_role_web.pdf

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه - که غواړئ چې دا راپور وژباړ ئ نو په مهربانی سره دا جمله له ژباړې سره یو ځای ولیکی : دا ژباړه د نړیوال بانک له لوري شخه نده ترسره شوې، هیڅکله د نړیوال بانک د رسمي ژباړې په توګه نه پېژندل کیږي او نه یې نړیوال بانک د کومو املاي او نورو غلطیو په صورت کې ضمانت کوي.

د جواز او یا نورو حقونو په اړوند کولای شی په دې پته اړیکه ټینګه کړ ئ. نړیوال بانک، H۱۸۱۸ ، د NW سړک، واشنګټن ډي سي، ۲۰۴۳۳، د امریکا متحده ایالات. فکس: ۲٦۲۵ – ۵۲۲ – ۲۰۲، بربښنالیک: pubrights@worldbank.org

د پوښ فوټوګراف: FKH میډیا، کابل – افغانستان

د پوښ ډیزاین: *info*Dev

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د *INFO*DEV په اړه

*Info*Dev له نړیوال بانک سره یو نړیوال همغږي پروګرام ده چې دواړه په ګډه د ننۍ ټکنالوجۍ کې د نوښتونو رامنځ ته کولو، د دندو پیداکولو او د بې وزلۍ له منځه وړلو په برخو کې سره کارکوي.

*info*Dev له حکومتونو او د ټکنالوجۍ په برخه کې له کوچنیو او منځنیو ادارو سره د دندو د رامنځ ته کولو په برخه کې، د مهارتونو او ظرفیتونو لوړلو په برخه کې، مارکیټ ته د لاسرسي په برخه کې، د سوداګرۍ په برخه کې او په هیوادونو کې د مارکېټونو د پراختیا په برخه کې مرسته کوي. مونږ دا همغږي له نورو پرمختیایي پروګرامونو سره لکه نړیوال بانک او IFC، او یا له نورو ارګانونو سره چې په دولتي او نا دولتي سکټور کې د نړۍ د پرمختګ په موخه کار کوي ترسره کوو.

د *Info*Dev په اړه د نورو معلوماتو لپاره له دې وېب پاڼې www.*info*dev.org څخه لېدنه کولای شی او یا له لاندې برېښنالیک سره اړیکه ټېنګه کړی *info*dev@worldbank.org.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## منته او کور ودانی

دا راپور چې دې (انتقال او بدلون : د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور) تر عنوان لاندې ده ، ټولې چارې يې *Info*Dev چې له نړيوال بانک سره يو همغږې پروګرام ده ترسره کړې. راپور په جګړې ځپلو هيوادونو کې د ICT په مرسته د هېوادونو د بيارغوني د څېړنو يوه برخه ده چې په ځانګړې ډول په افغانستان کې له جګړې وروسته د ICT اغېزې او بدلون په مفصل ډول سره تر بحث لاندې نيسي.

راپور په نړيوال بانک کې د ICT چارو کارپوه ښاغلي سېدهارتا راجا (Siddhartha Raja) له لوري ترتيب شوی. لېکوال له ښاغليو هر يو ټن ژين نوربو (Tenzin Norbhu)، راجېندرا سينګ (Rajendra Singh)، ټيم کېلي (Tim Killey)، نېکولاس فرېډريسي (Nicloas Friederici) او عبدالروف ضيا له لارښوونو څخه منته کوي . ليکوال همداشان له ښاغليو هر يو ډېوېډ سوټر ( David Souter) او کشايا سرينېواسان (Akshaya Sreenivasan) څخه د کاپي او اېډېټ کولو په برخه کې يې مرسته کړې منته کوي.

راپور به هېڅکله په افغانستان کې د اړوند ادارو د کارپوهانو او د افغانستان د خلکو له مرستې پرته نه وای جوړ شوی.

دا راپور د يوې کوچنۍ ضميمي ويډيو په واسطه تکميل شوی. ويډيو چې په لاندې انټرنټي وېب پاڼه کې پرته ده په افغانستان کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ دپرمختګ اوپرنوروسکټورونو يې اغېزې په لنډ ډول سره تر بحث لاندې نيسي .
http://youtu.be/nEIeACyhUk4

د راپور په جوړېښت کې د فنلېډ د بهرنيو چارو د وزارت او UkAid مرستې نشو هېرولای.

د نورو معلوماتو لپاره له لاندې پتې سره اړيکه ټينګه کړئ.

*Info*Dev / نړيوال بانک
۱۸۱۸ H، NW سړک
واشنګټن ډي سي، ۲۰۴۳
د امريکا متحده ايالات

Info@*info*dev.org

www.*info*Dev.org

UKaid from the British people · THE WORLD BANK · FORMIN.FINLAND.FI MINISTRY FOR FOREIGN AFFAIRS OF FINLAND · infoDev Growing Innovation

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

لړلیک، د شکلونو، جدولونه او بکسونو لیست ........................................ IV

اختصارات ........................................ IV

پېژندنه ........................................ ۱

د افغانستان ICT سکټور: له ۲۰۰۱ زېږدیز تر ۲۰۱۲ زیږدیزکاله ........................................ ۱

افغانستان ولې دومره پرمختګ وکړ؟ ........................................ ۲

د ICT سکټور په وړاندې پرتې ننګونې ........................................ ٦

ځینې اړین موضوعات ........................................ ۷

نورو جنګ ځپلو هیوادونو او شاته پاتې ولسونو ته لنډه کتنه........................................ ۸

سرچینې........................................ ۹

## د شکلونو، جدولونو او بکسونو لیست

الف – بکس: د افغانستان د کلیو مخابراتي شبکه ........................................ ۵

## اختصارات

| | |
|---|---|
| **ATRA** | **Afghan Telecom Regulatory Authority** |
| **ICT** | **Information & Communication Technology** |
| **ICT4D** | **Information & Communication Technology for Development** |
| **ISP** | **Internet Service Provider** |
| **KOICA** | **Korea International Cooperation Agency** |
| **MCIT** | **Ministry of Communications and Information Technology** |
| **SIDA** | **Swedish International Development Cooperation Agency** |
| **USAID** | **United States Agency for International Development** |
| **VCN** | **Village Communications Network** |

**ټول پولي واحدونه په امریکایي ډالرو ښودل شوي، په غیر صورت کې ارقام له پولي واحدونو سره یوځای ذکر کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پېژندنه

**افغانستان د نړۍ له هغو بې وزلو هیوادونو څخه ګڼل کېږي چې کلونه کلونه کورنۍ جګړه په کې تېره شوې. له ۱۹۷۹ زېږدیز کال څخه د تېرې پېړۍ تر پایه پورې پرله پسې جګړې ددې هېواد ډېرې زېربناوې له منځه وړي او میلیونونه افغانان یې هجرت ته اړ کړي . په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د طالبانو حکومت له ړنګېدو وروسته د نړیوالې ټولنې په مرسته کابل کې نوی حکومت رامنځ ته شو، او یوځل بیا افغانستان له نړۍ سره خپلې اړیکې پیل کړې. د نوي حکومت له رامنځ ته کېدو سره د هېواد په ګوت ګوټ کې وسلوالو مخالفینو شتون درلود او دولت په بهرنۍ پوځي او پرمختیایی مرستو تکیه، د پرمختګ په لور روان شو. جګړې د وخت مرکزي او محلي حکومتونه له منځه ولاړ ا و هېواد یو ځل بیا له جګړې څخه د امن او ثبات په لور حرکت وکړ . خو پوښتنه دا ده چې، آیا په نږدې راتلونکې کې د بهرنیو پوځي او پرمختیايي مرستو پرته به دا هېواد وکولای شي خپلې داخلي ستونزې حل او مخ په وړاندې ولاړ شي؟**

**د پرمختګ په موخه افغانستان له ډېرو ستونزو سره لاس ا و ګرېوان ده، له امنیت څخه رانېولې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ تر سکټوره پورې. له ۲۰۰۱ زېږدیز کاله تر اوسه پورې د هېواد په زېربیناوو کې ډېر مثبت بدلون رامنځ ته شوی، او د دولت له لورې څخه د هېواد اوسېدونکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ډېر پرمختګ تر سترګو کیږي.**

**د هېواد په پرمختګ او بدلون کې معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ مهم رول درلود. په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې په ټول هېواد کې ۲۰۰۰۰ ټیلیفونو شتون درلود چې، اوس په شاوخوا ۳۰ ملیونه نفوس کې ۲۰ میلیونه وګړي ګرځنده ټېلیفونونو ته لاس رسی لري . افغانستان د معلوماتو له نړیوالې شبکې سره د منځنۍ ختیځ ، جنوبي آسیا او مرکزي آسیا له لارو ونښلول شو او په نږدې راتلونکې کې به له خپلې نوري فایبر شبکې څخه د هېواد دننه او بهر د معلوماتو د راکړې ورکړې په برخه کې ګټه پورته کړ ي. اوسمهال په هېواد کې د ICT سکټور پر مټ ښېلابېلې رسنیزې او معلوما تي سرچینې د لاس رسي وړ دي . دا کوچنی راپور د ICT سکټور د تېرې یوې لسیزې ټولې تجربې په لنډ دول سره تشرېح کوي . دا راپور له جګړې څخه وروسته په بېارغونې کې د ICT د ځېړنو یوه برخه ده او د یوې ضمیمي وېډیو په واسطه چې د همدې راپور لپاره جوړه شوې تکمیلیږي.** [۱]

## د افغانستان ICT سکټور: له ۲۰۰۱زېږدیز تر ۲۰۱۲ زېږدیز کاله

**د طالبانو حکومت له ړنګېدو وروسته افغانستان د تیر په پرتله ډېر پرمختګ وکړ. له شلو کلنو څخه ډېرې کورنۍ جګړې د دې هېواد د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ وزارت په بشري او تخنیکي ظرفیتونو کې ډېر کموالی راوستی وو. د ۲۰۰۰ زېږدیز کال په شاوخوا کې د طا لبانو له سقوط سره سم دې هېواد هسې په نوم ICT اېکو سېستم درلود . ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې په ټول افغانستان کې ۲۰۰۰۰ ټیلیفونونو شتون درلود چې ډېری یې په پایتخت کابل کې وو . د هېواد ټېلیفوني شبکې یوازې د افغانتسان دننه کار کاوو او هېڅ نړېوال ارتباط یې نه درلود نو له همدې کبله به ډېری افغانان له هېواد څخه بهر ګاونډویو هېوادونو ته د نړېوالو ټیلیفوني اړېکو په موخه سفر کاوو تر څو له خپلو دوستانو او یا د کورنۍ له غړیو سره چې په اروپایي او امریکایي هېوادونو کې ژوند کوي خبرې وکړي. د مخابراتو مخکېني وزارت د نورمونو، قوانېنو او عملیاتي برخو لپاره یوازې یوه مشترکه پالیسي درلوده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ورځ په افغانستان کې د ICT پرمختګ د ستايلو وړ ده . د ګرځنده ټيليفونو په برخه کې له پرمختګ پرته، ډيری دولتي او نا دولتي اداري په خپلو چارو کې له ICT څخه ګټه پورته کوي . په ICT کې د تېرو لسو کلونو بدلون افغانانو ته دا زمينه برابره کړې تر څو معلوماتو، مالیي يا بانکي خدمتونو او تر ټولو مهم نوي مارکېټ ته يې لاس رسی پيدا کړ . افغان دولت د نړېوال بانک او متحده اياالاتو پراختيايي اداري (USAID) په مرستې وکولای شو تر څو خلکو ته الکترونيکي او مب ايل خدمتونه وړاندې کړي . شخصي سوداګريز شرکتونو وکولای شو تر څو د مبايل وسيلو او شبکو له لارې خلکو ته د مبايل له لارې د پيسو لېږد رالېږد، د کرنيز مارکېټ د محصو لاتو قيمتونه، روغتيايي معلومات او داسې نور خدمتونه وړاندې کړي.

د ټکنالوجۍ د پرمختګ په برخه کې ځوانانو چې د نورو افغانانو په پرتله ډېره اشنايي ورسره لري مهم رول لوبولی. ځوانانو وکولای شو د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د ډېرې پانګې اچونې په برخه کې يو نوښت رامنځ ته کړي . د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ سکټور په هېواد کې کابو ۱۰۰۰۰۰ مستقيمې او غير مستقيمې دندې رامنځ ته کړې. د مخابراتو او معلوماتي ټکنا لوجۍ اړوند خدمتونو وکولای شو لېک لوستو ځوانانو ، بې وزلو خلکو او ښځو ته د کارپيداکولو تر ټولو ستر ه سرچينه وګرځي، چې د کوچنی بايسکيل ډولې موټر په واسطه د بې وزلو هېوادوالو له لوري د م بايل کارټونو پلورل او داسې نورې يې روښانې بېلګې دي. مخابراتو په هېواد کې بانکي خدمتونو او ځيني دولتي چارو ته دلاس رسي زمينه برابره کړې، دې کار د دولت په کلني عوايدو کې ډېر مثبت بدلون راوستی چې له دې مخکې کلني عايدات د مرستې کوونکو بهرنيو ارګانونه پورې تړلي وو.

د افغانستان په اقتصاد کې د مثبت بدلون يو له اساسي عواملو څخه د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور پرمختګ دی. خو بيا هم په دې سکټور کې ډيری ستونزې چې لا تر اوسه حل شوي ندي شتون لري. په هېواد کې نا امني، لرو پرتو سېمو کې د برېښنا نه شتون او په اکاډميک برخه کې د بشري قوي کموالی له هغو ستونزو څخه دي چې په افغانستان کې د ICT د پرمختګ او پانګې اچونې مخه نيسي. د هېواد محافظه کارانه ټولنيز سياست له يوه بلې ستونزې څخه ګڼل کېږي چ ې ټکنالوجۍ ته د هېوادوالو بيا په ځانګړې ډول د ښځو لاس رسي محدودوي او په کاري فرصتونو باندې يې منفي اغيزې لري. نو په همدې اساس، د ICT پاليسي جوړونکي او نظارت کوونکي بايد موجوده ستونزې او خنډونه په نظر کې ونيسي تر څو هغه حل په راتلونکې کې ډېرې لاسته راوړنې ولري.

## افغانستان ولې دومره پرمختګ وکړ؟

په ټوله نړۍ کې له، ۲۰۰۱ زېږديز کال څخه را پدېخو مخابراتي او معلوماتي ټکنالوجۍ ډېر پرمختګ کړی چې په ټولنيزو او اقتصادي برخو کې يې هم تر ډېره بريده اغيزې ترسترګو کېږي . معلوماتو ته د لاس رسي په برخې کې اسانی، د ټولنې د وګړو تر منځ نږدې اړيکې، د دولت او عامو خلکو تر منځ په اړيکو کې مثبت بدلون، په توليدي برخو کې آسانتياوې، د خوراکي او غير خوراکي موادو د مصرف او رسولو په برخو کې او دې ته ورته لسګونه نور مثالونه د ICT له مثبتو اغيزو څخه ګڼل کيږي . په نړۍ کې د ګرځنده ټيليفون پېرودونکو شمېر له ۵ .۳ مليارډو (په ۲۰۰۵ زېږديز کال کې) څخه ۷ مليارډو ته (۲۰۱۲ زېږديز کال کې) لوړ شو.

په همدې لسيزې کې په ټوله نړۍ کې د انټرنېټ کارونکو شمېر له ۱ مليارد څخه ۳ .۲ مليارډو ته لوړ شو. په جنګ ځپلو هېوادونو کې (د نړېوال بانک د سروې پر بنسټ )، د ټيليفون د استفاده کوونکو شمېر له ۹۰ مليون (۲۰۰۷زېږديز کال کې ) څخه ۲۵۸ مليون

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۰۱۳زېږدیز کال کې) ته ورسیده. معلوماتو ته د لاسرسي د لا اسانتیاوو په موخه د پراخ باند شبکې (Broadband Networks) رامنځ ته شوي، خو یادې شبکې لا تر اوسه هم په بې وزلو هېوادونو په ډیر کم شمیر شتون لري.

په نړېواله کچه څرنګه د افغانستان له تجربو ګټه پورته کیدای شي؟ افغانستان کې د ټیلیفون پېرودونکو شمېر له ۱۴۵۰۰۰ څخه (۲۰۰۳ زېږدیز کال کې) ۱۸ ملیون (۲۰۱۲ زېږدیز کال کې) ته لوړ شو. د ټیلیفوني مکالمو په بیو کې هم مثبت بدلون رامنځ ته شو ی، په اوس وخت کې د یوې دقیقې ټیلیفوني مکالمې بیه له یوه سنټ (امریکایي ډالر) سره معادل ده خو په ۲۰۰۳ زېږدیز کال کې د یوې دقیقې ټیلیفوني مکالمې بیه ۳۰ سنټه (امریکایي ډالر) وه. [۲]

یو شمېر فکټورونو لکه مناسب محیط ، د سکټور د پرمختګ لپاره مسلکي چوکاټ او د خدمتونو تطبیق او تقاضا په افغانستان کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ د پرمختګ په برخه کې مثبت رول درلود.

په لومړیو وختونو کې د افغان دولت له لوري د قوانینو او پالیسیو د یوه منظم چوکاټ په جوړولو سره خصوصي سکټور تشویق کړ تر څو د مخابراتو په برخه کې فعاله ونډه واخلي. یادو قوانینو ډېر شمېر فرصتونه رامنځ ته کړل تر څو ملي او نړیوال پانګه اچونکي د مخابراتو په برخه کې پانګه اچونه وکړي او ددې هېواد وګړي انټرنټي او ټیلیفوني خدمتونه لاس رسی پیدا کړي. نړیوالو او ملي پانګه اچونکو له نورو هېوادونو څخه د درلودونکو تجربو نه په ګټې اخیستې سره وکولای شو تر څو په مارکېټ کې د مخابراتي شرکتونو تر منځ یو سالم رقابت رامنځ ته کړي. له ۲۰۰۱ زېږدیز کاله څخه تر اوسه پورې د مخابراتو په سکټور کې په خصوصي ډول سره له ۲ ملیارده ډالرو څخه ډېره پانګه اچونه شوې. په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې په هېواد کې ۴ خصوصي موبایل ټیلیفوني شبکې او یوه دولتي لېن لرونکې ټیلیفوني شبکه فعاله وه او له ۲۰ څخه ډېرې د انټرنټي خدمتونو وړاندې کولو شرکتونو فعالیت کاوه.

د یاد سکټور د پرمختګ په برخه کې د مخابراتو ا و معلوماتي ټکنالوجۍ په وزارت کې د یوې دوستانه او د خصوصي سکټور له تشویق ډکه پالیسي او همداشان د افغانستان د مخابراتي خدمتونو تنظیم کوونکې اداري (ATRA) مهم رول لوبولی. یو له بل پسې له تخنیکي پلوه پوه وزیران او د تخنیکي مرستندویه ادارو مرستو وکولای شول د امنیتي ستونزو برسېره د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ سکټور ته ډېر پرمختګ ورکړي. په هېواد کې له تخنیکي پلوه کم شمېر افغان کارپوهان برسېره، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت له لوري څخه په مارکېټ کې د پراخ سالم رقابت رامنځ ته کول او د ATRA له لوري څخه د خصوصي سکټور د تشویق په پایله کې د امنیتي ستونزو برسېره ICT خپل اوج ته ورسېده.

له ۲۰۰۱ زېږدیز کال څخه را پدېخوا مخابراتي خدمتونو ته د خلکو علاقه ورځ په ورځ په ډېرېدو ده . موبایل شبکو په ډېره چټکتیا سره وکولای شو یوازې په لسو کلونو کې له ۲۱ ملیونو څخه ډېر پېرودونکي پېدا کړي . په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې د 3G په نامه د پراخ باند بېسیم شبکې مارکېټ ته رامنځ ته شوې. [۳] د دولتي مخابراتي شرکت افغان ټېلیکام له لوري څخه د سپوږمکۍ نه په ګټې اخېستنې په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې د کلیو مخابراتي شبکه VCN (Villages Communication Network) رامنځ ته شوه . خو یادې پروژې هغه پانګوال چې کمه پانګه یې درلوده تشویق کړل د ۲۰۰۰ امرېکایي ډالرو په لګښت سره په یوې کلیوالې سېمې کې د ټیلیفون دستګاه ولګوي (الف بکس ته نظر واچوئ). په ۲۰۰۴ زېږدیز کال کې یوې ملي سروې وښودله چې په افغانستان کې د یوې کورنۍ نېمایي غړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځنده ټېليفون ته لاس رسی لري .[۴] ډېری وخت په نړۍ کې د مخ په ودې هېوادونو تجربې له يو بل سره نږدې والی لري چې، د افغانستان او ځينې نورمخ په ودې هېوادونه د ICT په برخه کې ورته تجربې لري او کولای شي له د يوه بل له تجربو څخه په پراخه کچه ګټه پورته کړي . د افغانستان په کليوالو سېمو کې پراخې ټولنيزې اړېکې، او هغه کورنۍ چې ځينې غړي يې په نورو بهرنيو هېوادونو کې ژوند کوي د مخابراتي خدمتونو په برخه کې د زياتوالي او علاقې له دوه نورو عاملونو څخه ګڼل کېږي.

د کورنۍ جګړې په وخت ټول هغه افغانان چې له هېواده بهر په نورو هېوادونو کې مهاجر وو د طالبانو رژيم له ړنګېدو وروسته بېرته خپل هېواد ته راستانه شول . ډېری دغو بېرته راستنېدونکو افغانانو په داسې هېوادونو کې ژوند کاوو چې هلته انټرنټي او مخابراتي خدمتونو ښه مارکېټ درلود . ددغې طبقې خلکو تجربو د افغانستان په لروپرتو سېمو او بيا په ځانګړې ډول په منځنۍ او کاري کورنيو کې له ټکنالوجۍ نه ګټه اخيستې ته ډېره وده ورکړه. په افغانستان کې د انټرنټي او مخابراتي خدمتونو د عرضه کولو په تخنيکي برخو کې، د سافټ ويرونو او وېب پاڼو د جوړولو او پراختيا په برخو کې، د ټکنالوجيکي وسيلو د خرڅلاوځايونه او د ترميم ورکشاپونه له هغو کسانو پورې تړاو لري چې له بهرنيو هېوادونو څخه بېرته خپل هېواد ته راستانه شوې دي . په عين وخت کې، يو شمېر افغانانو د ځينو پروګرامونو له لارې وکولای شو دولتي سکټور او د عامه خدمتونو د عرضه کولو پروګرامونو ته لاره پيداکړي. دې کار وکولای شو تر څو په دولتي سکټور کې مسلکي او با صلاحيته کاری محيط رامنځ ته کړي.

په افغانستان کې د موجودو نړېوالو مرستنديو ادارو شتون يو بل مهم فکټور ده چې د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوجۍ د پرمختګ په برخه کې يې مرسته کړې . ددغو نړېوالو مرستنديو ادارو له ډلې څخه نړېوال بانک، د متحده ايالاتو نړېواله پراختيايي اداره (USAID)، SIDA او KOICA په مستقيم ډول له ICT سکټور سره مرسته کړې . نه يوازې په ICT سکټور بلکې په نورو برخو کې د کارکوونکو له لوري څخه (د افغانانو په شمول ) په خپل کاری محيط کې د ټکنالوجۍ کارول نور هم خلک تشوېق کړل تر څو د ICT کلتور په هېواد کې غني شي. په نني کابل کې د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د روزنې ډېر شمېر سوداګريز مرکزونه شتون ل ري. ياد مرکزونه د کيفيت له پلو له يو بل سره توپير لري . بې له شکه ډېر شمېر ځوان زده کوونکي او محصلين په دې باور دي چې د معلوماتي ټکنالوجۍ مهارتونو زده کړه کولای شي د دندې موندې په وخت کې ورسره مرسته وکړي.


د پرمختلليو ګرځنده ټېليفونو (موبايل) څخه په ټولنېز و اړېکو کې ډېره ګټه پورته کېږي . افغانستان اوسمهال د پيوست په نامه موبايل ټولنېزه شبکه لري، دا ټولنېزه شبکه ۳۰۰۰۰۰ پېرودونکي چې په افغانستان کې يې د فيسبوک له پېرودونکو شمېره لوړه ده لري.[۵] يو شمېر دولتي پروګرامونه د موبايل نه دګټې اخيستې په صورت کې خپلې چارې پلې کوي او خپلو خلکو ته خدمتونه وړاندې کوي. د موبايل له لارې د پيسو انتقال د خصوصي انتقال کوونکو له لوری تر سره کېږي، د بيلونو پرې کول او د ځېنو دولتی ادارو د معاشانو اجراکول له هغو بېلګو څخه دي چې د موبايل له لارې ترسره کيږي . د ۲۰۱۲ زېږديز کال څخه راپدېخوا، ډېرې هڅې روانې دي تر څو ياد خدمتونه لروپرتو سېمو ته ورسيږي. په همدې موخه له موبايل نه د ګټې اخيستنې په موخه يو پراخ دولتي پروګرام په لار روان ده. د ځېنو هېوادونو له تجربو نه په ګټې اخېستنې سره ويلای شو چې په خپلو چارو کې له م وبايل نه ګټه اخېسته کولای شی ډېرشمېر شرکتونه، دندې، او نورې اسانتياوې رامنځ ته کړي . که چېرې دولت، خصوصي سکټور، او پانګه اچوونکي، په دې برخه کې ونډه واخلي نو افغانستان به د لا ډېرو لاسته راوړنو شاهد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هرکله چې افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ په    برخه کې موجوده خنډونه حل   کړي نو حتما  به دا پرمختګ د هېواد په کورنۍ او نړېوالو اړېکو نېغ په نېغه اغیز ولري . دمخابراتو وزارت له لوري د  مخابراتي سکټور قوي مدیریت وکولای شو تر څو د نوري فایبر پراخه ظرفیت لرونکې   لاره  (Backbone) او د نوري فایبر ملي حلقو   ي شبکه  چې د هېواد ټول ولایتو له یو بل سره تړي او همداشان افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره نښلوي رامنځ ته شي.**

**په ۲۰۰۸ زېږدیز کال کې  دولتي مخابراتي شرکت  (افغان ټېلیکام ) د کلیو مخابراتي شبکې تر نامه لاندې له سپوږمکۍ نه په ګټې اخېستنې یو پروګرام پیل کړ . دا پروګرام د  VCN  سېستم له ټرمېنالونو څخه جوړ شوی وو چې کولای    شي دواړه ټیلیفوني او ډېټا خدمتونه وړاندې کړي . په ټول هېواد کې  ۸۰۰ ټرمېنالونه د مخابراتي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه ابېنودل شوي . (لاندې نقشې کې په ښه توګه ښودل شوي).**

**الف – بکس: د افغانستان د کلیو مخابراتي شبکه.**




**د تقریبي  VCN د نقشې موقېعتونه (شمېرې په سېمو کې د  ټرمېنالونو شمېر معلوموي)، نقشه له  Google Map او Batch Geo نه اخېستل شوې.**

**د VCN په پروګرام کې ټول اپرېټران  له افغان ټېلیکام سره یو ځای کار کوي. چې هر یو آپرېټر د ۲۰۰۰ امرېکایي ډالرو په بیې سره یو ټرمېنال تر لاسه کاوه. ځېنې اپرېټران یاد ټرمېنال د خپلو ضروریاتو لپاره کاروي او ځېنې نورو ترې ټیلیفوني مرکزونه جوړ کړي دي. د مخابراتو وزارت وایې چې څه باندې ۱ ملیون افغانان له دې شبکې څخه په ټول هېواد کې ګټه پورته کوي.**

**د هېواد جغرافېایي  موقیعت او تاریخي پېښې د معلوماتي او مخابراتي  ټکنالوجۍ سکټور په پراختیا کې تر ډېره برېده مرسته کولای شي.  کلونه وړاندې افغانستان له هغو هېوادونو څخه ګڼل کې  ده چې منځنې ختیځ، اروپایي   او  آسیایي هېوادونه یې  له  یو بل سره نښلول. یو له دغو بېلګو څخه د ورېښمنو لاره یادولی شو چې په  ۱۴ پېړۍ کې له افغانستان څخه تېرېده. په اوسني وخت، د افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي پېښو او سوداګریزو پروژو ته په کتو سره چې په سېمه کې پراخ بدلون رامنځ ته کړي وو کولای شي په ډیجېټال نړۍ کې د تېر په شان رول ولوبوي.

افغان دولت باید هڅه وکړي چې په هېواد کې د پراخ بانډویټ درلودونکی نوري فایبر حلقوي پروژه رامنځ ته کړي تر څو ددې هیواد ټول ولایتونه له یو بل سره وتړي او همداشان افغانستان له نړۍ سره ونښلوي . د چارو کارپوهان باور لري چې د تاریخي وریښمي لارې ته په کتو سره، که چېرې پراخ بانډوېټ درلودونکی نوري فایبر رامنځ ته شي نو کولای شي افغانستان په نړۍ کې د یوې الکترونیکي څلولارې (Data Hub) حېثیت غوره کړي تر څو د سېمې او نړۍ هېوادونه خپل معلومات او اطلاعات له همدې څلولارې له یوه بل سره تبادله کړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره څلور اساسي فکتورونه باید په نظر کې ونیول شي، امنیتي حالات، ګاونډي هېوادونو سره سیاسي اړیکې، د ګاونډي هېوادونو زېربېناوې او نړېوال ټرانزېټ.

## د ICT سکټور په وړاندې پرتې ننګونې

په افغانستان کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د پرمختګ تر څنګ ډېرې داسې ستونزې تر سترګو کېږي چې د هېواد د یاد سکټور په وړاندې خنډونه رامنځ ته کوي، دغه خنډونه په مستقیم ډول د اړیکو، پراختیا او هېواد له بیارغونې پورې تړاو لري. په هېواد کې روان امنیتی کړکېچ تر ټولو ډېرې ستونزې رامنځ کړي او د پانګه اچونکو په وړاندې یې د پانګې اچونې په برخه کې یوه بې باوره فضا رامنځ ته کړې. د هېواد د ICT سکټور یو له هغو سکټورونو څخه وو چې ډېره قرباني یې ورکړې. د افغانستان د حلقوي نوري فایبر د پروژې په رغونې کې ۵ تنه ووژل او ۲۰ تنه نور ټپیان شول. د ۲۰۰۸ زېږدیز کال له فبروري راپدېخو په پرله پسې ډول د موبایل مخابراتي شبکو ځینې ټاورونه د شپې له لوري څخه خاموشه کېږي ترڅو د ځېنو خطري عناصرو له لوري څخه ورته زیان ونه رسیږي او ډېری وخت همدا ټاورنه د ځېنې وسلوالو له لوري څخه سوزول کېږي .[٦] ضعیفه حکومتولي او ناکامې دولتي اداري له دوه نورو محدودیتونه څخه دي چې دولت ورسره لاس او ګرېوان دی . د هېواد په دولتي ادارو کې فساد په لوړه کچه تر سترګو کیږي او باید د دولتي سیستمونو، پالیسیو او نورمونو د بیا رغونې په وخت کې ورته پاملرنه وشي . لکه په نورو هېوادونو کې چ ې ICT یادې ستونزې حل کړي دلته یې هم حل کولای شي خو تر څو چې په دولت کې سیاسي اراده او اداري اصلاحات رامنځ ته نشي بدلون نه رامنځ ته کېږي.

د هېوادوالو ورځني عایدات او لیک لوست له دوه نورو ننګونو څخه دي چې په افغانستان کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د پراختیا په وړاندې پرتې دي او همداشان د ټکنالوجۍ په ټولنېزو او اقتصادي برخو باندې هم اغېزې لري. د ICT د پراختیا په برخه کې د مسلکي بشري قوې شتون یو بل مهم فکتور ګڼل کېږي . اوسمهال په هېواد کې د مخابراتو په برخه کې ډېرې لوړ رتبه مامورین افغانان دي . ډېر کم شمیر ICT انجنیران او تخنیکران چې هغه هم دولتي ادارو او د یاد سکټور اړوند قراردادي شرکتونو کې په کار بوخت دي شتون لري . په نورو هېوادونو کې د ICT په برخه کې ډېر کم شمېر کاري سرچېنې تر سترګو کېږي . د ICT پورې اړوند ارګانونو کې له تخنیکي پلوه کم مهارتونه، په هېواد کې د لیک لوست ټیټه کچه هغو شرکتونو ته چې خدمتونه وړاندې کوي له مهمو ننګونو څخه ګڼل کېږي . په هېواد کې د زېربېناوو نه شتون د ټکنالوجۍ د پرمختګ مخه نېسي، د بېلګې په توګه د Multimedia انټرفېسونه لپاره پراخ بانډ شبکو (Broadband Networks) ته د اړتیا موضوع. په لنډ او اوږده مهال کې په لرروپرتو سېمو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو سرچېنو نه ګټه اخېستنه له یوه بلې اړېنې لارې څخه ګڼل کېږي چې کولای شي معلوماتو لاس رسی اسانه، د سواد کچه لوړه او معلوماتي او مخابراتي تکنالوجی لا غښتلې کړي. په نورو هېوادونو کې په ستراتیژیک ډول سره د شبکو او شبکیي خدمتونو پلې کولو ښه پایله درلوده د کوریا جمهوریت او چېن یې ښکاره بېلګې ګڼل کېږي، تر څو افغانستان هم د یادو هېوادونو له تجربو څخه ګټه پورته کړي.

## ځینې اړین موضوعات

لومړی، لکه څرنګه چې اوسمهال د مخابراتو سکټور تر ډېره حده شخصي ښه غور ه کړې خو لا تر اوسه هم په یادې برخې کې د افغان دولت له لوري څخه ډېر انحصارات شتون لري . د شخصي موبایل او انټرنټي خدمتونو وړاندې کونکي شرکتونه ددې اجازه نلري تر څو لېن لرونکي شبکې د محلي او ملي مخابراتي خدمتونو په موخه تاسېس کړي . یوازې دولت د لېن لرونکو مخابراتي شبکو درلودلو حق لري او بس. دغه محدودیت د شخصي سکټور قوت او تشویق ته ضربه رسوي تر څو مارکېټ ته د نویو شبکو رامنځه کېدلو مخه ونیسي او پانګه اچونه راکمه کړي. که چېرې یاد محدودېت له منځه ولاړ شي نو په مارکېټ کې به موجود رقابت د لا پرمختګ سبب وګرځي.

دوهم، په هېواد کې ډېر کم شمېر مسلکي کسان او له تخنیکي پلوه پوه بشري قوه شتون لري . یاده بشري قوه باید پیاوړې شي ځکه د ICT د چوکاټ د پراختیا یواز ېنی لامل د مسلکي او تخنیکي قوې شتون دی . تخنیکي زده کړې باید د مارکېټ موجوده ستونزو او اړتیاوو سره سمون ولري ، محصلین بایډ له پیاوړو مهارتونو سره اشنا شي دا مهارتونه باید دواړه تخنیکي او سوداګریز اړخ ولري . اوسمهال د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت له نړیوال بانک سره په همغږی یو پروګرام په لار اچولی تر څو د معلوماتي ټکنالوجی د مهارتونو د روزنې په برخه کې په ګډه کار سره وکړي. په ټولنېزو وېب پاڼو کې د ICT کارپوهانو تر منځ نږدې اړیکو وکړای شول تر څو یاد مهارتونه لا پراخ او ډېر کړي. د مرستندویو ادارو له لوري څخه د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی روزنیز ورکشاپونه کولای شي په ټولنېزو ویب پاڼو کې د افغانانو تر منځ اړیکې پراخې کړي چې په افغانستان کې د ICT شورا رامنځ ته کېدل یې یوه بېلګه ګڼل کېږي.

دریم، د افغانستان دولت په ډېر محدود شمیر اداري او بشري ظرفیتونو لوړولو پروګرامونو کې له ICT نه ګټه پورته کوي. ډېری دولتي ارګانونه او اړوند چاروکي په خپلو ادارو کې لهICT نه د ګټې اخیستنې په ګټو او اسانتیاوو ښه پوهېږي، خو ډېر کم شمیر دولتي ادارو په خپلو چارو کې له ICT نه ګټه پورته کړې، برسېره پر دې چې په کارونو کې یې آسانتیاوې راغلي، عام خلک هم تر ډېره حده ترې منندوی دي. لکه څرنګه چې ګرځنده ټیلیفون په افغ انستان کې د عام و خلکو او دولت تر منځ د اړیکو یو چینل ګرځ ېدلای نو افغان دولت کولای شي د خپلو ادارو د ظرفیت لوړولو او د خلکو په خوښه د خدمتونو په وړاندې کولو کې ترې ګټه پورته کړي . چې بې له دې به د عامو خلکو نا هیلې توب له منځه ولاړ شي او پر دولت به یې د بې باوری کچه هم تر ډېره بریده را کمه شي.

یادې ننګونې او ستونزې د افغانستان په څېر جګړې ځپلو او بې وزلو هېوادونو ته د ICT د پراختیا په موخه موجوده لاره محدود وي او په ډېرو سختویو سره کولای شي موجوده خنډ ونه له منځه یوسي . پرمختګ وخت ته اړتیا لري او په دې پرمختګ کې به ICT وکولای شي د ټولنې اقتصادي او ټولنیز اړخونه هم مخ په وړاندې بوځي. خو دا یوه تحلیلي او ستراتیژیک پلان ته اړتیا لري تر څو وکولای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زېربېناوو په رامنځ ته کولو، د بشري ظرفېتونو او اداري ظرفيتونو لوړولو کې مرسته وکړي دا هغه څه دي چې افغانان يې غواړي او کولای شي اقتصاد، ښا رغونې او پرمختيا کې ډېره اغېزه ولري.

## نورو جنګ ځپلو هیوادونو او شاته پاتې ولسونو ته لنډه کتنه

په هر هېواد کې د ICT د پرمختګ لپاره باید ټول اړخونه په نظر کې ونېول شي، لکه څرنګه چې په افغانستان کې نېول شوي وو . څو هغه تجربې چې له افغانستان او یا نورو جنګ ځپلو هېوادونو څخه د ICT په برخه کې تر لاسه کیږي نشي کېدای چې په نورو هېوادونو کې کټ مټ پلې شي. خو بیا هم د ځېنو هېوادونو د تجربو یوه برخه په نورو هېوادونو کې د ګټې اخېستنې وړ وي، چې هغه په لاندې ډول دي.

- په جنګ ځپلو هېوادونو کې د ICT د پرمختګ په موخه باید زر تر زره د یوه قوي پالیسي او قوانینو درلودونکی چوکاټ جوړ شي چې په ترڅ کې یې سالم رقابت، د مارکېټ اړوند ستونزې حل او پانګه اچونکو ته هر ډول بنیادي آسانتیاوې رامنځ ته کړي.
- په پوهنتونو او روزنېز ورکشاپونو کې باید د مهارتونو پراختیا ته پاملرنه وشي تر څو په رامنځ ته کېدونکو ټولنېزو شبکو کې له یو بل سره خپلې تجربې او مهارتونه شریک کړي.
- په سکټور کې باید داسې د خلکو د خوښې سرچېنې جوړې شي تر څو وکولای شي ښېرته یاد سکټور ته ګټې رامنځ ته کړي د بېلګې په توګه په افغانستان کې د موبایل ټیلیفوني خدمتونوپراختیا چې په څنګ کې یې نورې ګټې لکه د ICT مهارتونو لوړوالی او د موبایل کارونې اصول او داسې نور وي رامنځ ته شي.
- د هېواد د ICT سکټور د پرمختګ لپاره باید اوږدمهاله پلانونه جوړ کړي چې په ترڅ کې یې هیواد په نړیواله توګه په راتلونکې له پرمختللیو هېوادونو څخه وشمېرل شي.
- په دولتي ارګانونو کې باید د اداري او بشري ظرفیتو نو لوړولو ته پاملرنه وشي تر څو وکولای شي خپلو دوو موخو ته چې په هېواد کې د ټکنالوجۍ پلي کول او همداشان خپل ټول خدمتونه په ICT سمبالول دي ورسېږي.
- په دوو نورو برخو کې چې د قوانېنو او پالیسویو د یو چوکاټ جوړول او همداشان د لیک لوست ظرفیت ل وړول دي د مرستندیو ارګانونو مرستې را جلب کړي.

په تېره یوه لسېزه کې د افغانستان د معلو ماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور د ډېرو ستونزو په درلودلو سره ډېر پرمختګ وکړ . دې هېواد وکولای شو تر څو له دې ټولو فرصتونو څخه په ښه توګه ګټه پورته کړي او د هېواد په اقتصادي پراختیا کې ډېر رول ولوبوي. دا پرمختګ د هېواد په ټول حالت اغېزه لري او حتی هېواد ته به د جګړې او نا امنۍ حالت څخه د ثبات او امنیت په لور حرکت ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچينې

**1:** The video is available at http://youtu.be/nEIeACyhUk4. It was produced by FKH Media, Afghanistan.

**2:** According to the statistics of the Ministry of Communications and IT, and Wireless Intelligence (2012).

**3:** http://www.bbc.co.uk/news/business-19975113.

**4:** http://asiafoundation.org/resources/pdfs/Surveybook2012web1.pdf.

**5:** Interview with Paywast.

**6:** http://arstechnica.com/gadgets/2008/02/taliban-wants-cell-phone-networks-shut-down-at-night/.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان په تېره یوه لسيزه کې د ډېرو اقتصادي پرمختګونو او پرمختيايي لاسته راوړنو شاهد وو . د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ سکټور په دې پرمختګ کې ځانګړی اهميت درلود . معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ وکولای شو تر څو ددې هيواد وګړي معلوماتو ، ماليي او بانکي خدمتونو، مارکيټ، عامو خدمتونو، د دندو پيداکولو او داسې نورو برخو سره ونښلوي.

دا راپور په افغانستان کې له جګړې وروسته د ICT په رول او پرمختګ، او همداشان دا چې څومره دا سکټور کولای شي نور پرمختګ رامنځ ته کړی بحث کوي. راپور کې ځينو ستونزو ته لکه امنيت، د بنسټيزو پلانونو او کدرونو کموالی له هغو فکتورونو څخه ګڼل شوي چې په راتلونکې کې د دې سکټور د پرمختګ په موخه ورته پاملرنه وشي. راپور په افغانستان کې د ICT سکټور د پرمختګ د ځينو تجربو په يادولو سره پای ته رسيږي تر څو نورجګړې ځپلي هيوادونو ترې ګټه پورته کړي.

راپور د يوې کوچنۍ ضميمي ويډيو په واسطه تکميل شوی. ويډيو چې په لاندې انټرنټي وېب پاڼه کې پرته ده په افغانستان کې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د پرمختک او پر نورو سکټورونو يې اغېزې په لنډ ډول سره تر بحث لاندې نيسي .

http://youtu.be/nEIeACyhUk4

© ۲۰۱۳ *Info*Dev / نړيوال بانک/ ۱۸۱۸ H / سړک NW / واشنګټن ډي سي، ۲۰۴۳۳

برېښناليک: info@*info*dev.org ، ټيليفون۸۸۳۱ ۴۵۸ ۲۰۲ ۱+، ټوېټر: @*info*Dev

وېب پاڼه: www.*info*dev.org

UKaid
from the British people

infoDev
Growing Innovation

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**